**مور، باور لرو چي د ماشومتوب روغتيايي ستونزې حل کېدی شي.**

# د GenV د مور د شيدو لاربنووني

- **ماشوم له يوې اوونۍ څخه کم عمر لري؟** د 7 ورځو په عمر نمونه راټوله کړئ، يا له هغه وروسته چي هر څومره ژر کولای شئ
- **ماشوم له يوې اوونۍ څخه زيات عمر لري؟** څومره ژر چي کولای شئ، نمونه راټوله کړئ
- **د نمونې را ټولول مو هېر شوي يا ګران کار دی؟** هر وخت خپله نمونه بېرته را واستوئ - هره نمونه مهمه ده
- له تغذيي مخکي د شيدو د نمونه را ټولول کېدای شي آسانه اوسي – له تغذيي وروسته هم سمه ده.

کځوره مو ورکه کړې يا تېروتنه شوې؟ - موږ سره اړيکه ونيسئ

تليفون: 1800 436 888  ويب سايټ: www.genv.org.au

**د خونديتوب معلومات:**

له ماشومانو يې لرې وساتئ. ماشومانو ته اجازه مه ورکوئ چي ټيوب ته لاس وروړي.
ټيوب يو څه پوډر لري. هغه خوندي دی، مګر ‌ دا کولی شي سترګې، پوستکي، يا د هوا لارې خروبې کړي.
که پوډر پوټکي يا سترګو ته ورسېږي - په اوبو يې پرېمنځئ.
که خارښت دوام ولري د طبي مرستي غوښتنه وکړئ.

## 1

تاسو اړتيا لرئ:

- د لاربنووني دغه کارت
- ستاسو د شيدو راټولولو ټيوب
- يو پاکټ له يوه جذبونکي پيډ سره
- د ماشومانو دوه لانده دستمالونه (نه دي دړکړل شوي)
- يو قلم (نه دی دړکړل شوي)

## 2



- انتخاب کړئ چي له کومې سينې (تي) څخه شيدې را وباسئ
- له هرې سينې څخه چي وي فرق نکوي
- د سينې سر او شاوخوا ځای، د ماشومانو په لانده دستمال پاک کړئ

## 3



- د شيدې د ټولولو د ټيوب سرپوښ لرې کړئ
- کوښښ وکړئ چي پوډر دننه تويې نکړئ

## 4



- شيدې د ټيوب دننه واچوئ
- تاسو کولای شئ، د شيدې راويستلو له يوه پاک پمپ څخه کار واخلئ – بيا شيدې په ټيوب کي واچوئ
- هڅه وکړئ چي ټيوب نيمايي ډک کړئ (د چای ځښلو د قاشقي په اندازه)
- که تاسو دومره اندازه نشئ را ټولولئ، هر څومره چي کولای شئ را ټولي کړئ

## 5




- **د ټيوب سرپوښ بېرته بند کړئ** – چک کړئ چي کلک بند شوئ وي
- د سينې سر او شاوخوا ځای يو ځل بيا د ماشومانو په لانده دستمال پاک کړئ
- د شيدو په ټيوب وخت او تاريخ، په هم ځای کي چي ويل شوي 'تاريخ او د راټولولو وخت' وليکئ
**(‘Date and Time Collected’)**

## 6




- ټيوب د پاکټ دننه له جذبونکي پيډ سره يو ځای واچوئ
- د پاکټ ځنډي يو ځای کړئ - څومره چي تاسو کولی شئ لږ هوا سره يې بند کړئ

## 7




- کځوره د بېرته را استولو پاکټ کي واچوئ
- د پاکټ سر بند کړئ
- دا د خونې په حرارت کي پاتي کېدی شي (نه په يخچال يا فريزر کي)

## 8




- د نمونې له اخيستلو وروسته، ژر تر ژره نمونه GenV ته پوسټ کړئ
- دا د آسټراليا په کوم پوسټ بکس کي واچوئ
- د پوسټ ټاپې ته اړتيا نشته

## 9

- که چيري لا ډېرو معلوماتو ته اړتيا لرئ، د کيو آر (QR) کوډ سکن کړئ
- دا د GenV وېب پاڼي د بايو سمپل نمونو راټولولو پاڼي ته ځي

V1.0 2022-06-28

**ستاسو د مرستي لپاره مننه تر څو راتلونکی نسل تر ټولو روغ وي.**